Utdannings-
direktoratet

# په ناروې کې د ښوونې او روزنې سیستم

## له وړکتوب نه د ثانوي ښوونځي پورې

د هغو والدینو او پالونکو لپاره معلومات کوم چې نوي را رسېدلي دي

اپریل 2022



## د مطالبو لیکلړ

1. د وړکتوب د دورې ښوونه او روزنه او پالنه (0 – 6 کلن) په ناروېژي: BARNEHAGE ................................ 3

2. لومړنۍ او منځنۍ ښوونه او روزنه (6 – 16 کلن) په ناروېژي: grunnskole ........................................... 3
په لومړنۍ او منځنۍ دورو کې د شاملېدو حق او مکلفیت ........................................................................ 3
د درجه بندۍ ارزونې ........................................................................................................... 4
له ښوونځي وړاندې او وروسته پروګرامونه (په ناروېژي: SFO) ............................................................... 4

3. د ځوانانو لپاره ثانوي دوره (16 – 24 کلن) په ناروېژي: videregående opplæring ............................... 4
د ښوونځي د ثانوني دورې لپاره غوښتنلیک...................................................................................... 5
د عمومي زده کړې پروګرامونه (په ناروېژي: studieforberedende utdanningsprogram) ....................... 5
د حرفوي زده کړو پروګرامونه (په ناروېژي: yrkesfaglige utdanningsprogram).................................... 5

4. د ټولو زده کوونکو حقونه............................................................................................................. 6
د ژبې ځانګړې زده کړه .............................................................................................................. 6
په لومړنۍ، منځنۍ او ثانوي دوره کې مقدماتي مرسته.......................................................................... 6
ځانګړې زده کړه......................................................................................................................... 6
خوندي او مثبت روزنیز چاپیریال................................................................................................... 7
د ښوونځي او کور تر منځ همکاري ................................................................................................ 7

## 1. د وړکتوب د دورې ښوونه او روزنه او پالنه (0 – 6 کلن) په ناروېژي: BARNEHAGE

په ناروې کې، زیاتره ماشومان تر څو چې هغوی 6 کلن کېږي او ښوونځی پیلوي، د وړکتوب د دورې په ښوونې او روزنې او پالنې کې شاملیږي، چې زیاتره ورته وړکتون (Kindergarten) ویل کېږي.

په وړکتون کې، تجربه لرونکي کارکوونکي له ماشومانو پالنه کوي او د هغوی لپاره د زده کړې، لوبې او بېلابېلو ټولنیزو او کلتوري فعالیتونو زمینه برابروي. په وړکتون کې، ماشومان هم له وړکتون بهر او هم دننه خپل وخت تېروي. وړکتون د ماشومانو د ودې لپاره له ژبني، ټولنیز او فزیکي اړخه مهم دی.

د والدینو یا پالونکو او وړکتون تر منځ همکاري او خبرې اترې ډېرې مهمې دي. وړکتون د ماشوم د شالید په اړه یو لړ معلوماتو ته اړتیا لري لکه د هغه مورنۍ ژبه یا نورې هغه ژبې چې د هغه زده دي، لېوالتیاوې او ممکنه ننګوونې، تر څو وکولای شي د ماشوم اړتیاوې په اغېزمنه توګه سره پوره کړي. وړکتون هم د ماشوم د ورځنیو کړو وړو او ودې په اړه والدین/پالونکو ته معلومات ورکوي.

ټول ماشومان حق لري تر څو په وړکتون کې یو خوندي او سالم چاپېریال ولري. وړکتون یوه ټولګډونه اجتماع هڅوي او له زور ویلو او نورو مضرو فعالیتونو څخه مخنیوی کوي. کله چې یو ماشوم د نورو ماشومانو یا لویانو له خوا له زور ویلو یا نورو مضرو کړو وړو سره مخامخ کېږي، نو وړکتون دنده لري تر څو د هغو په غبرګون کې ګامونه پورته کړي.

د ځانګړو اړتیاوو لرونکي ماشومان حق لري چې د ځانګړو زده کړو ملاتړ او لاسرسی ولري. دا خبره پر هغو ماشومانو باندې هم د پلي کېدو وړ ده کوم چې په وړکتون کې نه دي شامل شوي. وړاندې شوې مرستې د ماشوم له اړتیاوو سره سم برابرېږي.

دواړه دولتي او خصوصي وړکتونونه شته. د حقونو، غوښتنلیک، د والدینو د فیس او په خپله ټولنه کې د غوراویو په اړه د مشرح معلوماتو لپاره کولای شئ له خپلې ښاروالۍ سره اړیکه ونیسئ.

## 2. لومړنۍ او منځنۍ ښوونه او روزنه (6 – 16 کلن) په ناروېژي: GRUNNSKOLE

هغه ماشومان او تنکي ځوانان چې عمرونه یې له 6 – 16 کلونو پورې دي، حق لري او مکلف دي تر څو په لومړنۍ او منځنۍ ښوونه او روزنه کې شامل شي. ښاروالۍ د ټولو ماشومانو لپاره په وړیا توګه د دولتي لومړنۍ او منځنۍ ښوونې او روزنې خدمات وړاندې کوي. خصوصي ښوونځي په معمول ډول سره فیس اخلي.

ماشومان په معمول ډول په هغه کال کې چې 6 کلن کېږي، ښوونځي ته ځي. لومړنۍ دوره د اوو کلونو لپاره ده او له لومړي تر اووم (7) ټولګي پورې ده. منځنۍ دوره د دریو کلونو لپاره ده او له اتم (8) ټولګي تر لسم (10) ټولګي پورې ده.

ښوونیز کال په معمول ډول د اګست د میاشتې له نیمايي څخه پیلیږي او د جون میاشتې په نیمايي کې پای ته رسیږي. هغه ماشومان او تنکي ځوانان چې د ښوونیز کال په ترڅ کې ناروې ته راځي، هر څه ژر به په ښوونځي کې شامل شي.

**په لومړنۍ او منځنۍ دورو کې د شاملیدو حق او مکلفیت**
که چېرې هغه ماشومان چې ناروې ته راځي او کېدای شي چې له دریو میاشتو څخه زیات په دې هېواد کې پاتې شي، نو بیا دا حق لري چې د لومړنۍ او منځنۍ دورې په ښوونځي کې شامل شي. ښاروالۍ مکلفه ده چې ماشوم هر څه ژر په ښوونځي کې شامل کړي، چې دا دوره هېواد ته د هغو له راتګ نه تر یوې میاشتې زیات نه وي.

وروسته له هغه چې ماشومانو او تنکیو ځوانانو له دریو میاشتو نه زیات په ناروې کې ژوند وکړ، بیا نو دوی مکلف دي تر څو په یوه دولتي لومړني یا منځني ښوونځي یا د هغه معادل تحصیلي موسسه کې درس ولولي.

**د درجه بندی ارزونې**
په لومړنیو ښوونځیو کې، زده کوونکي پرته له دې چې درجه بندي شي، ارزول کېږي. په منځنی دوره کې، زده کوونکي هم له درجه بندي کېدو او هم پرته له درجه بندي، ارزول کېږي.

د منځنی دورې درجې هغه مهال کارول کېږي چې کله زده کوونکي د ثانوي دورې لپاره غوښتنلیک سپاري. درجه بندي له 1 تر 6 وي او 6 تر ټولو لوړه ممکنه تر لاسه کېدونکي درجه ده.

**له ښوونځي وړاندې او وروسته پروګرامونه (په ناروېژي: SFO)**
SFO هم له ښوونځي وړاندې او هم وروسته وړاندې کېږي اود مجرب پرسونل تر څارنې لاندې لوبې او کلتوري او تفریحي فعالیتونه وړاندې کوي. SFO زیاتره وختونه د ښوونځي د ودانۍ په دننه یا د ښوونځي اړوند نورو ځایونو کې تر سره کېږي.

زیاتره ښاروالۍ ګانې د SFO پروګرامونه د ټولو هغو ماشومانو لپاره چې له 1 – 4 ټولګي کې دي او همداشان د هغو ځانګړو اړتیاوو لرونکو ماشومانو لپاره چې له 1 – 7 ټولګي کې دي، وړاندې کوي.

له ښوونځي څخه وړاندې او وروسته پروګرامونه د ماشومانو د عمر او د هغوی د درک د کچې له مخې د لوبې کولو، زده کړې او بېلابېلو ټولنیزو او کلتوري فعالیتونو زمینه برابروي. دغه پروګرام د اړوندتابه او ملګرتیا حس ته وده ورکوي او د ماشومانو د ټولنیز، کلتوري او ژبنی ودې لپاره مهم دی.

له ښوونځي نه په وړاندې او وروسته پروګرامونو کې ګډون اختیاري دی. په SFO کې د ګډون او د والدینو د فیس په اړه د مفصلو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره تاسې کولای شئ له خپلې ښاروالۍ سره په اړیکه کې شئ.

## 3. د ځوانانو لپاره ثانوي دوره (16 – 24 کلن)
## په ناروېژي: VIDEREGÅENDE OPPLÆRING

هغه ځوانان چې منځنۍ دوره یې په ناروې یا د هغه معادل زده کړه یې په یوه بل هېواد کې بشپړه کړې وي، حق لري چې په ثانوني دوره کې شامل شي.

دا کار همداشان پر هغو کسانو باندې د پلي کېدو وړ ده چې ثانوني دوره یې په داسې یوه هېواد کې پای ته رسولې وي چې د پوهنتون یا کالج یا د حرفوي زده کړو تصدیق لیک یې په ناروې کې په رسمیت نه پیژندل کېږي.

زیاتره زده کوونکي کله چې 16 کلن کېږي، په ثانوني دوره کې شاملېږي. هغه بالغ غوښتنلیک سپارونکي (25 کلن یا تر دې پورته) حق لري چې د ثانوي دورې په یوه زده کړه کې چې په ځانګړې توګه د لویانو لپاره تنظیم شوې، شامل شي.

د ښوونځي په ثانوي دوره کې د شاملیدو حق، په ناروې کې د قانوني اوسېدا اجازې ته اړتیا لري. هغه ځوانان چې د خپلې اقامې د جواز د پروسیس پر مهال په هېواد کې دي او د احتمال له مخې له دریو میاشتو نه زیات په دې هېواد کې ژوند کوي، که چېرې د هغوی عمر له 18 کلنی نه تیټ وي، حق لري چې په ثانوني دوره کې شامل شي. هغه ځوانان چې د خپلې اقامې د جواز په اړه تصمیم ته منتظر دي او 18 کلن دي، حق لري چې خپل تعلیمي کال بشپړ کړي.

**د ښوونځي د ثانوني دورې لپاره غوښتنلیک**
ثانوي دوره د عمومي زده کړې په پروګرامونو او حرفوي تعلیماتو باندې وېشل کېږي. لومړی کال د "vg1" په نوم یادېږي او غوښتنلیک سپارونکی د بېلابېلو پروګرامونو لپاره لومړي درې غوراوي ټاکي او حق لري چې په یوه کې ومنل شي. زده کوونکی باید د هر کال لپاره غوښتنلیک وسپاري (vg1، vg2 و vg3).

د قانون په توګه، ځوانان د ثانوي دورې لپاره غوښتنلیک په هغه هېواد کې سپاري چېرې چې دوی ژوند کوي.
د هېواد اداري مسوولیت لري چې د دولتي ثانوي دورې زده کړې په وړیا توګه سره وړاندې کړي. همداشان ځینې خپلواک ښوونځي هم شته چې په معمول ډول سره فیس اخلي.

په ثانوي دوره کې د غوښتنلیک ضرب الاجل هر کال د فبروري 1 یا د مارچ 1 دی. د فبروري 1 د غوښتنلیک ضرب الاجل پر هغو زده کوونکو باندې د تطبیق وړ دی چې د نورو مواردو نه علاوه، تازه ناروې ته را رسېدلي وي، د ژبې د ځانګړي زده کړې د اړتیا په خاطر د منځنۍ دورې درجه بندي نه لري یا دا چې د هغو غوښتنلیک باید په انفرادي ډول تر ارزونې لاندې ونیول شي.

د ثانوني دورې، د غوښتنلیک او شاملیدو د بهیر په اړه د لا زیاتو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره، مهرباني وکړئ د خپل هېواد له چارواکو سره په اړیکه کې شئ یا له دې وېب پاڼې لیدنه وکړئ www.vilbli.no، چې په بېلابېلو ژبو سره معلومات وړاندې کوي.

**د عمومي زده کړې پروګرامونه (په ناروېژي: studieforberedende utdanningsprogram)**
د عمومي زده کړو پروګرامونه د عمومي یا مشخص پوهنتون یا کالج د داخلې تصدیق وړاندې کوي. د ثانوني دورې درجه بندي هغه مهال کارول کېږي چې زده کوونکي د لوړو زده کړو لپاره کالج یا پوهنتون ته غوښتنلیک سپاري.

د عمومي زده کړو پروګرامونه په عادي ډول د درې کلنې تعلیمي مودې لرونکي دي.

غوښتنلیک سپارونکي کولای شي له لاندنیو عمومي زده کړو پروګرامونو څخه یو وټاکي:

- په عمومي زده کړې کې تخصص
- هنر، طراحي او معماري
- ورزشونه او فزیکي ښوونه او روزنه
- موسیقي، رقص او ډرامه
- رسنۍ او ارتباطات

**د حرفوي زده کړو پروګرامونه (په ناروېژي: yrkesfaglige utdanningsprogram)**
د حرفوي زده کړو پروګرامونه یو حرفوي تصدیق لیک ورکوي، چې التبه کولای شي هغه د سوداګریز تصدیق لیک یا (journeyman) تصدیق لیک سره یا له هغه پرته وي. یو حرفوي تصدیق لیک یوه کس ته داسې مدارک ورکوي تر څو په یوه مسلک کې کار وکړي.

د حرفوي زده کړو پروګرامونه په عادي ډول په ټولګي کې دننه درې کلنه زده کړه یا په ټولګي کې دننه دوه کلنه زده کړه او په یوه شرکت کې د کار د زد کړې دوه کلنه زده کړه لري. دا امکان هم شته چې خلک په یوه بشپړوونکي پروګرام کې د پوهنتون یا کالج د تصدیق لیک د تر لاسه کولو لپاره نوم لیکنه وکړي.

غوښتنلیک سپارونکي کولای شي د حرفوي زده کړو له پروګرامونو څخه لاندې یو وټاکي:

- جوړول او ودانول
- د برق انجینري او د کمپیوټر تکنالوژي
- د ویښتانو سینګار، ګل پالنه، د کور دننه دیکوریش او پرچون پلورنځی
- روغتیا پالنه، د وړکتوب او تنکۍ ځوانۍ وده
- صنایع، طراحي او د محصولاتو پراختیا

- معلوماتي تکنالوژي او رسنیز تولیدات
- کرهنه، ماهي نیول او ځنګل ساتنه
- رستورانت او د خوړو پروسیس
- پلور، خدمات او ګرځندوی
- تکنالوژیکي او صنعتي تولیدات

## 4. د ټولو زده کوونکو حقونه

دا حقونه د هغو زده کوونکو لپاره د پلي کېدو وړ دي چې د ښوونځي په لومړنی، منځنی یا ثانوي دوره کې وي.

**د ژبې ځانګړې زده کړه**
هغه زده کوونکي چې د هغوی مورنی ژبه له ناروېژي یا سامي (Sami) پرته نورې ژبې وي، کوم چې په ناروېژي ژبه باندې خبرې نه شي کولای یا د هغوی د ناروېژي ژبې مهارت ضعیف دی، حق لري چې د ژبې ځانګړې زده کړه تر لاسه کړي. هغوی تر هغه وخته پورې دا حق لري چې په ناروېژي ژبه کې کافي مهارت مومي او کولای شي په عادي زد کړه کې ګډون وکړي او ترې ګټه پورته کړي.

د ژبې ځانګړې زده کړه کې د ناروېژي ژبې اضافي زده کړې شاملې دي او همداشان ښایي لاندې موارد په کې شامل واوسي:

- د زده کوونکي په مورنی ژبه زده کړه
- د دوو ژبو زده کړه – دا د یوه یا څو مضمونونو داسې ترکیب دی چې په ناروېژي ژبه او یوه بله هغه ژبه چې زده کوونکی په کې مهارت لری تر سره کېږي

ښوونځی مکلف دی تر څو د زده کوونکي مهارت په ناروېژي ژبه کې وارزوي او مشخصه کړي چې د دې زده کوونکي لپاره څه ډول د ژبې ځانګړې زده کړې مناسبې دي.

**په لومړنی، منځنی او ثانوي دوره کې مقدماتي مرسته**
هغه ماشومان او ځوانان چې نوي ناروې ته راغلي دي، ښایي د خپلې زده کړې ټوله دوره یا یوه برخه تر دوو کلونو لپاره په ګروپونو، ټولګیو یا بېلو ښوونځیو کې تېر کړي. موخه دا ده چې په عادي ښوونځیو یا ټولګیو کې تر شاملېدو وړاندې باید هغوی په چټکۍ سره ناروېژي ژبه زده کړي.

ماشوم/تنکی ځوان او د هغه والدین یا پالونکي باید د مقدماتي پروګرام له محتویاتو نه خبر وي او په داسې یوه پروګرام کې د هغه له شاملېدو سره رضایت وښیي. ماشوم/تنکی ځوان او د هغه والدین/پالونکي کولای شي دا وټاکي چې یا مستقیم منظم ښوونځي ته ورشي یا ټولګیو ته.

**ځانګړې زده کړه**
هغه زده کوونکي چې په کافي اندازه له عادي زده کړې څخه نه برخمن کېږي یا نه شي کولای برخمن شي، حق لري چې ځانګړې زده کړه تر لاسه کړه. ځانګړې زده کړه ممکن په دې مفهوم وي چې زده کوونکی په انفرادي ډول په کس پورې تړلو منحصرو روزنیزو موخوته د رسېدو لپاره کار وکړي، دا چې یو ښوونکی یا همکار له زده کوونکي سره په ټولګي کې مرسته وکړي او له هغه نه څارنه ولري یا دا چې د زده کوونکي لپاره ځانګړې تجهیزات ورکړل شي. ځانګړې زده کړه د زده کوونکي د مشخصو اړتیاوو په پام کې نیولو سره تنظیم کېږي.

**خوندي او مثبت روزنيز چاپيريال**
ټول زده کوونکي حق لري چې يوه خوندي او مثبت روزنيز چاپيريال ته لاسرسی ولري، چېرې چې ښه روغتيا، هوساينه او زده کړه هڅول کېږي. دا د ښوونځي له چاپيريال څخه د زده کوونکي خپله تجربه ده چې اهميت لري. ټول زده کوونکي بايد د اړوندتيا يو حس ولري. دا د ښوونځي مسووليت دی تر څو له زور ويلو او نورو مضرو کړو وړو څخه مخنيوی وکړي. که چېرې کوم زده کوونکی په ښوونځي کې د خونديتوب يا هوساينې حس و نه لري، ښوونځی مکلفيت لري تر څو وضعيت وڅاري او اړين اقدامات تر لاس لاندې ونيسي.

**د ښوونځي او کور تر منځ همکاري**
د ښوونځي، زده کوونکي او والدينو يا سرپرستانو تر منځ همکاري مهمه ده. دا کار له ښوونځي سره مرسته کوي تر څو په غوره توګه له زده کوونکي سره مرسته وکړي او همداشان د يوه اکاډميک چاپيريال او ښې ټولنې په رامنځته کولو کې مرسته کوي.

والدين او پالونکي مکلفيت لري تر څو د ماشوم او ښوونځي د ودې په خبرو کې او همداشان د والدينو په غونډو کې، د ټولو هغو والدينو لپاره چې ماشومان يې په يوه ټولګی يا يوه ګروپ کې دي، ګډون وکړي.

والدين يا پالونکي هڅول کېږي چې د ماشوم د زده کړې او ودې په اړه د هر ډول پوښتنې يا انديښنې د شتون په صورت کې له ښوونځي سره په اړيکه کې شي.

Utdannings-
direktoratet